مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۱۱/۰۹

هسې نه چې ښار جوړ شي،

ښاريان شي ټول له لورې مړه

زړه چې دې د لورې او يخنۍ نه نور بېواکه شي
پښې لاسونه دواړه بېوسۍ نه نور بېواکه شي

دود د اټوم بم ښه دی که دود د سيخ کباب ښه دی؟
زغم چې دې د لورې لېونۍ نـه نور بېواکه شي

هسې نه چې ښار جوړ شي ښاريان شي ټول له لورې مړه
زړونـه خـو د داسـې بازسـازۍ نـه نـور بېواکه شي

ستا دغه د لورې نه مړ امن نـه خو جنګ ښه دی
صبر هم د ډېرې مجبورۍ نـه نور بېواکه شي

ډېر وايم بـاوره نـور به سترګې په حق پټې کړم
زما ياغي قلم د شاعرۍ نـه نـور بېـواکـه شـي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ